**د ملګرو ملتونو مطبوعاتي اعلامیه**

## د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو نړیواله ورځ

## "اتل و اوسه: په افغانستان کې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي او تبعیض مخنیوی"

**کابل، د نومبر ۲۵، ۲۰۱۴ کال-** نن د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو نړیواله ورځ ده، له دی وړاندې د جنسیتی تاوتریخوالي په وړاندې د ۱۶ ورځو فعالیت تر سره شوی. دا ورځ د نړی په کچه لمانځل کیږي، انفرادی کسانو او ډلو ته د بسیج کولو یو فرصت برابروی چې د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د پای ته رسیدو چټکه غوښتنه کوي او د دی کار لپاره تیاری نیسي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړي استازي نیکولاس هیسم وویل. "افغان ښځې او نجونې باید له خپلو ازادیو څخه په بشپړ ډول برخمنې شي او د خپل ملت په جوړونه کې برخه واخلي. په افغانستان کې باید د ښځو او نجونو په وړاندې تبعیض او تاوتریخوالی له منځه یوړل شي او نوری هڅې باید ترسره شي چې د ښځو او نجونو په وړاندې له تاوتریخوالي څخه د ډکو جرمونو لپاره معافیت له منځه یوسي."

په افغانستان کې، د ښځو او نجونو په وړاندې تاوتریخوالی لا پراخ دی او په بشري حقونو یو جدی تیری دی، چې ښځې د دوی له مدني، سیاسي، ټولنیزو، کلتوری، اقتصادي او د پرمختیا له حقوقو څخه منع کوي. افغان حکومت قانوني مسولیت لري چې ملي او نړیوالو ژمنو ته په پام سره د ښځو او نجونو په وړاندې تاوتریخوالی له منځه یوسي، لکه د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون څنګه چې د بشري نړیوالو حقونو په قوانینو کې ځای شوی لکه، د ۲۰۰۹ کال د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د منع قانون. په وروستیو کې د حکومت له خوا یو بل هڅونکی ګام د عمل د ملي پلان تصوییبول وه چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له ۱۳۲۵ شمیری پریکړه لیک وروسته تصویب شوی چې د ښځو، سولې او امنیت په هکله وه او د افغانستان ژمنې بیا تاییدوي، چې ښځې او نجونې د تاوتریخوالي له ټولو ډولونو څخه وژغوري، په ځانګړي ډول د شخړو پرمهال. په ۱۸ ولایتونو کې د حکومت لخوا نور مثبت ګامونه د ښځو پر وړاندی د تاوتریخوالی د منع د قانون د څارنوالی د څانګو تاسیسول دي، چې موخه یې د دغه قانون په نافذولو کې پرمختګ دی. په تیره اونۍ کې د جنسیت پر اساس د تاوتریخوالي سره د چلند پروتوکول دی چې د لومړی ځل لپاره ترتیب شوی وه، معرفی شو چې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي په وړاندې د روغتیا سکتور تقویه کړی.

د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي لپاره د ملګرو ملتونو د خاص استازی رشیده مانجوو له افغانستان څخه د خپلې لیدنې په ترڅ کې په دې ټینګار وکړ، چې په دې هیواد کې د ښځو او نجونو په وړاندې له ټولو جرمونو سره حساب او کتاب وشي. نوموړې په دې ټینګار وکړ چې "د جنسیت پر بنسټ د جرم پراخه کچه او د ویرې یوې فضا په غیر متناسب ډول د ښځو او نجونو د بشري حقونو په پرمختګ او ساتنه باندې اغیز کړی."

د یو لړ ترسره شویو پرمختګونو سربیره، تاوتریخوالی په هیواد کې د یو شمیر ښځو او نجونو لپاره د یوه حقیقت په حیث پاته شوی، چې د دوي په هوساینه او د اساسی حقونو څخه د کارونې په اړه یې شدیدی اغیزې پر ځای پری ایښي. د ښځو

پر وړاندی د تاوترېخوالی د منع د قانون په پلی کیدو کې ځنډ نه موازنه توب د دې سبب شوی، چې قانوني تحفظ کمزوری شي او زیات شمیر ښځې په دوه ځله د تاوتریخوالي قرباني شي- لومړی ځل  چې کله دوی له تاوتریخوالي سره مخ کیږي، او دوهم ځل کله چې دوی خدمتونو او عدالت ته لاسرسی نه شي موندلای.

د ښځو پر وړاندی د تاوترېخوالی د منع قانون باید په بشپړه توګه تنفیذ شي. همدارنګه اړینه ده چې د قانون د اصلاحاتو یو شمیر نوښتونه، د جزا د قانون د بیا کتنې او په تیره لسیزه کې د ښځو د حقونو په اړه برياوې په ګډون وساتي او هغه نوښتونه تقویه کړي چې د جنسیتی مسلو ته ځواب وایي او عدالت او برابری تقویه کوي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ښځو د هیواد د کچې استازې ایلزیرا سیجینبیوا وویل "اوس د عمل وخت را رسیدلی ځکه چې تر ۸۰ سلنه زیاتې ښځې په هیواد کې د هغوي په ژوندانه کې د تاوترېخوالي سره مخ کیږي. موږ اړ یو چې د ښځو پر وړاندی د تاوترېخوالی د منع قانون تقویه کړو. موږ همدارنګه د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو په هکله زیات تمرکز ته اړتیا لرو، دا د ټولنې د ټولو برخو په ځانګړي ډول د جنسیت د تساوی او درناوی وړ اړیکو په برخه کې د شریکانو په حیث د نارینه وو او ځوانانو ښکیلتیا ته اړتیا لري."

د ښځو پر وړاندې د تاوترېخوالي له منځه وړل د افغان حکومت او چارواکو لومړنی مسولیت دی. ملګری ملتونه، مدني ټولنې او انفرادي ښځې او نارینه د هغو هڅو په پرمختګ کې مهم رول لري چې د افغان ښځو او نجونو په وړاندې تاوترېخوالی له منځه وړي. نن ورځ او ۱۶ ورځنی فعالیت چې د افغانستان د حکومت او د هغه د همکارانو  له خوا پیل شوی یو داسې فرصت دی چې له تاوترېخوالي څخه د ښځو او نجونو د ژغورلو په لار کې ترلاسه شوی برياوې پراخې او تقویه کړي. ۱۶ ورځنی کمپاین همدارنګه د ټولو اړوندو خواوو لپاره یو فرصت دی چې په هیواد کې د ښځو په وړاندې د تاوترېخوالي د ریشه ای لاملونه په له منځه وړلو زور واچوي لکه، بې وزلي، په تصمیم نیولو کې نه برخه اخیستنه، روغتیا، ښوونه او روزنه او اقتصادي فرصتونو ته محدود لاسرسی.

ملګری ملتونه په بشپړه توګه ژمن دي، چې د موجوده او رښتینو عملونو په برخه کې د افغان حکومت او مدني ټولنې ملاتړ وکړي، څو د ټولو ښځو او نجونو حقونه درک کړي، او هغو ته د تاوترېخوالي څخه د خلاص ژوند کولو اجازه ورکړي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره :

یوناما: نیلاب مبارز، mobarez@un.org , تلیفون شمیره: ۰۷۹۷۶۶۲۵۰۳

یو این ومن: احمد شکیب دوست، Ahmad Shikib Dost,shikib dost@unwomen.org، ۰۷۰۲۵۵۸۰۹۱

United Nations Secretary-General's Campaign UNiTE to END VIOLENCE AGAINST WOMEN